AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de


افغان جرمن آنلاین

محمد حق نیکزاد

۲۰۱۰/۱۰/۱۹م

# دکوچیانو مشکلات

نن می د بینوا په ویب پاڼه کی دروانی میاشتی په ۱۷ نیټه دا لاندی عنوان تر سترګو سو!
افغان چارواکی وایی چی دا مهال میلیونونه افغان کوچیان په افغانستان کی د ډول ډول ګواښونو سره ماخامخ دیً
دغه ګواښونه د چارواکو په اند عبارت دی له : بیوزلی، تښتونی او د سختو کارونو سرته رسول
د چارواکو په اند د حل لاره یی عبارت ده له : ملا امامان، قومی مشران او سپین ږیری دید تبلیغ د لاری ددوی ماشومان دی ته وهڅوی چی ښوونځیو ته ولاړ سي.
د پورتنی بیان څخه داخبره جوته کیږی چی دا افغان چارواکی دکوچیانو د ژوند په اړه ډیر لږ معلومات لری.
په افغانستان کی کوچیان هغه وګړی دی چی د کال په اوږدو کی په خوزښت کی دی چی دیوه ځایه وبل ځای ته په دی خاطر روان دی چی د یوی خوا د خپلو څارویو د پاره د څارویو د څر ځایونه لټوی اود بلی خواهلته ځی چیری چی ښه موسم وی مانا دا چی نه ګرمی وی او نه ساړه وی. ددوی اصلی مشغولتیا د پسو او وزو روزنه ده. ددی په بغل کی اوښان، اسان او خره هم ساتی چی د هغو څخه د خپلو کډو د وړو او راوړو د پاره کار اخلی.
داچی دغه دواړه پورتنی امکانات په یوه ثابت ځای کی د تل د پاره د امکانه لیری خبره ده نو دوی هم مجبوره دی چی په ګرم موسم کی و یخی سیمی ته ولاړ سي او په یخ موسم کی و ګرمی سیمی ته حرکت وکړی. همدارنګه د څارویو خوراکه په یوه ځای کی د تل د پاره نه پیدا کیږی نو کله چی په یوی سیمی کی خوراکه کمه سی نو بیا د بلی سیمی په لټه کی سي. دغه د دوی د ژوند کاروبار دی.
افعانستان د کوچیانو د ژوند کولو په منظور پر څو سیمو باندی ویشل سوی دی چی دافغانستان د مختلفو سیمو کوچیان په هغو کی استوګنه کوی او دا سیمی عبارت دی له :
۱. د افغانستان مرکزی او شمال شرقی غرنی سیمی – په دی سیمو کی په دوبی کی کوچیان اوسیږی. کله چی د ژمی موسم رانژدی سي نو د یخنی او د واورو د اوریدو په خاطر چی ټولی سیمی تر واورو لاندی کیږی نو بیا ددی سیمو څخه و ګرمو سیمو ته کوچ کوی ځکه چی دوی داسي وسایل او امکانات نه لری چی په ژمی کی په داسي سړو سیمو کی د خپلو څارویو پالنه وکړی.
۲. د افغانستان شمالی، جنوبی او شرقی سیمی – په دی سیمو کی په ژمی کی کوچیان استوګنه لری نوکله چی هوا ګرمه سي نو بیا په داسي ځایونو کی د دوی ژوند د ډیرو مشکلاتو سره مخامخ کیږی. نوبیا ددی ځایونو څخه کوچ کوی او یخو سیمو ته ځی .





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنی د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

دکوچیانو اوسنی مشکلات یوازی دا نه دی چی د دوی ماشومان د ښوونځیو د تګ څخه بی برخی دی. ددوی اصلی مشکل په اوسنی شرایطو کی دادی چی ددوی د تګ او راتګ لاری او هغه ځایونه چی دوی د خپلی مینی په توګه ورڅخه کار اخیستي اوس هغه دزوړواکو د خوا لاندی سویدی په ځینو سیمو کی داسي حالات مسلط دی چی کوچیان د خپلو څارویو د تګ او راتګ لاره هم نه لری .نو اوس دا خبره داسي راځیږو چی:
دافغانستان کوچیان چی ددوی نفوس و میلیونونوته رسیږي تر هر څه دمخه یی خپل د استوګنی ځایونه د لاسه ورکړی دی. په کار داده چی لمړی د دوی د استوکنی غم وخوړل سي. تر هغه وروسته دی ددوی د ماشومانو د روزنی په هکله تعلیمی پروګرامونه په نظر کی ونیول سي.
داخبره باید په یاد ولرو چی په افغانستان کی د څارویو روزنه د ډیر اهمیت وړ موضوع ده او دی موضوع ته باید د دایمی حل په توګه وکتل سي. په اوسني شرایطو کی مشکله ده چی د پخوا په شان دڅارویو روزنه په نظر کی ونیسو چی کوچیان به د یوی سیمی څخه وبلي سیمي ته تګ او راتګ کوی.
ددی معضلی د حل په خاطر باید د دولت د خوا څخه د کوچیانو سره داسي مرسته وسي چی په ثابته ځایونو کی دڅارویو فارمونه جوړ کړای سي او مالی مرستي دی ورسره وسي. که چیری دا کار ونسي د څارویو روزنه د هری ورځی په تیریدو سره د جدی مشکلاتو سره لاس او ګریوان کیږی. که چیری دا معضله لکه څرنګه چی وویل سوه حل کړای سي هم به د څارویو روزنه په ښه توګه پر مخ ولاړه سي او هم به د کوچیانو د ماشومانو د روزنی معضله حل سي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ